Australian Government

کورونا ویروس ته اقتصادي غبرګون

# JobKeeper Payment د کار ساتني تادیات

د استرالیا حکومت د کارساتني (JobKeeper) د تادیاتو پر اساس، مستحق سوداګرۍ چې د کورونا ویروس د اقتصادي اغیزو څخه اغیزمن شوي وي، کولی شي د کارکوونکیو تادیاتو ته د دوام ورکولو لپاره د معاش سبسیډي ته لاسرسي ولري.

اغیزمن کارګماروونکي به وکولی شي چې په هر دوو اونیو کې $1,500 تادیات د مستحق کارکوونکیو لپاره د 30 مارچ 2020 تر 27 سپتمبر 2020 لپاره غوښتنلیک ورکړی.

د کار ساتني تادیات دا دادینه ورکوی چې مستحق کارګماروونکي د خپل کاري ځواک سره اړیکی وساتي او کله چې دا بحران پاي ته ورسیژي د سوداګرۍ په بیا چمتو کیدلو کې به ورسره مرسته وکړی.

دا تادیات د حکومت د پلان یوه برخه ده چې د کورونا ویروس اقتصادي اغیزي ته غیژه ورکوي تر څو د بیا رغوني لپاره د پله په جوړولو کې مرسته وکړي.

## د کار ګماروونکو لپاره مهم مالومات

د کار ساتني د تادیاتو د تر لاسه کولو لپاره کارګماروونکي باید د استرالیا د مالیاتو دفتر ((Australian Taxation Office (ATO)) سره د غوښتني اراده په دی ویبپانه www.ato.gov.au کې ثبت کړي.

کارګماروونکي دا هم باید وارزوي چې ایا د دوي په سوداګري کې به دا اړین کمښت په عایداتو کی تجربه کړي – د وړو سوداګریو لپاره، دا کمښت په عایداتو کې تر 30 فیصده او یا تری کم د 1 مارچ 2020 څخه د حد اقل یوِ میاشتی لپاره دي.

د غیر انتفاعی موسسو په شمول د خیریه موسسو او پخپله ګمارل شوی اشخاص (سوداګري پرته له کارکوونکیو څخه) د عایداتو ازموینې پوره کولو وروسته ممکن د کارساتني تادیاتو مستحق شي.

د پروسي د یوي برخي په توګه، کارګماروونکی باید ATO ته د خپلو مستحقو کارکوونکیو په اړه مالومات چمتو کړی. په ګدون د مستحقو کارکوونکیو شمیر د 1 مارچ 2020 څخه او کوم چې دا اوس په سوداګري کی ګمارل شوي دي (په شمول د هغو چي بیکاره شوی او یا بیرته مقرر شوی وي).

مستحق کارګماروونکي به لومړني د کارساتني تادیات د می میاشتي په لومړی اونی کې ترلاسه کړي.

## د کارکوونکیو لپاره مهم مالومات

که تاسي یو کارکوونکي یاست، نو ستاسو کارګماروونکي به تاسو ته خبر درکړي که دوي ستاسي لخوا د کارساتني لپاره غوښتنه کوي – اکثر کارکوونکي به د دی لپاره کوم څه کولو ته اړتیا ونلري.

د پوره و خت او نیمه وخت کارکوونکي، په ګدون د بیکاره شویو کارکوونکیو، د کارساتني د تادیاتو مستحق دي.

که چیری یو اجیر کارکوونکي (casual employee) د خپل کارګماروونکی سره په منظم او سیستیماتیک ډول لړترلږه د پخوانیو 12 میاشتو لپاره په 1 مارچ 2020 استخدام وي، دوی به هم د دي تادیاتو مستحق وي. مستحق کارکوونکي، د 1 مارچ 2020 څخه شامل دي په:

- استرالیایي اتباع
- د دایمي ویزي لرونکي
- د ځانګړي کټګوري (سب کلاس 444) ویزي لرونکي

که تاسي مستحق یاست، د کار ساتني تادیات به یوه برخه او یا ستاسي ټول عاید سبسیډي کړي – ستاسي کارګماروونکي به د خپلی تنخوا ورکولو د سیستم له لاری د تادیي مسئولیت ولري.

مستحق کارکوونکی به په هر دوو اونیو کې لږترلږه $1,500، د مالیي سره د خپل کارګماروونکي څخه تر لاسه کړي. د تقاعدي تضمیني تادیاتو ته اړتیا نشته که د کارساتني د تادیاتو له امله کوم اضافي تادیات وشي.

که تاسو په عمومي ډول د مالیي څخه مخکي په هر دوو اونیو کې د $1,500 څخه لږ عاید لاسته راوړ، ستاسي کار ګماروونکي باید د مالیي څخه مخکي تاسی ته حد اقل $1,500 تادیه کړي.

که چیري د کار ساتني غوښتنلیک منظور شي، او تاسي اوسمهال د دندی لټون (JobSeeker) عاید تر لاسه کوي، تاسي باید د استرالیا خدماتو (Services Australia) ته د خپل وضعیت د بدلون په اړه خبر ورکړي، او یا به تاسي پورورړي شی چې د بیرته تادیه کولو اړ به یاست.